نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۳/۰۷/۳۱

# د قومونو یوځایوالی که ادغام : کوم یو غوره دی؟

مونږ نه غواړو چي داروپا په څیر دي لږکي قومونه په ډیرکیو کي منحل شي، ځکه چي اسلام هم د قوم بدلون او تغیر ته اجازه نه ورکوي، خو دا غواړو چي د ورونو قومونو په څیر په هیواد کي ژوند ولرو.
که د نړدي ګاونډیو هیوادونو د وګړو پاسپورټونه او تذکري ووینو هلته به تاسي پر پاسپورټ او یا تذکره د قوم نوم ونه ګورئ، په ایران کي بېلابېل قومونه ژوند کوي، که دایران د هویت هر ډول اسناد وګورو، نو هلته به یوازي لیکلي وي چي ایرانی.
که د پاکستان د بېلابېلو قومونو د خلکو شناختي کارتونه وګورو هلته به تاسي وګورئ چي لیکلي وي پاکستانی، دا ډول که د دغه هیواد هر ډول د هویت اسناد وکتل شي نو هلته به د قوم نوم ونه وینو.
که د هند د ډیر نفوسه هیواد (هغه د چا خبره چي اتلس زره قومونه پکي راټول شوی) د وګړو د هویت اسناد وګورو، هلته به تاسي ووینی چي اندیان *Indian* لیکلي وي او د کوم خاص قوم نوم به بیا هم پیدانه کړئ
که د تاجکستان د وګړو د هویت پاني وګورو، نو هلته به د ازبک قوم او دترکمن قوم یا کوم نور قومونه ونه وینو، یوازي تاجکستان به ووینو
د ازبکستان ، ترکمنستان او د منځنی آسیا د نورو هیوادونو هویت پاني وګورو، بیا به هم د هر هیواد د ملت خاص او ځانګړی نوم وګورو.
په روسیه کي چي په خوا د اتلس جمهوریتونو خلکو ژوند کاوو، او د دغه هیواد مستعمره هیوادونه وو، بیا هم د هغوی د هویت پانو کي یوازی روس *Russian* لیکل کیدل.
که د امریکا پیژند پاني وګورو نو هلته تور، سپین او سور پوستکی امریکایي نه دی لیکلی، هلته چي د نړۍ د ډیرو هیوادونو خلک مهاجر ورغلي او بیا یي د هغه هیواد تابعیت ترلاسه کړی، بیا به هم ووینئ چي امریکایي *American* په پاسپورټ او هویت پانه کی لیکلی وي، چي تر ټولو روڼ مثال یي اوسنی ولسمشر اوباما دی، پلار یي له تانزانیا امریکاته تللی وو، توروپوستی دی، خو نن د ځان له پاره یوازي د امریکایي نوم کاروي.
په امریکا کي تر ډیرو هیوادونو زیات قومونه اوسیږي، خو هلته د قوم په نوم پاسپورټ او یا تذکره نه ورکول کیږي.
په اروپا کي چي ډول ډول قومونه یي په هر هیواد کي اوسیږي، په پاسپورټ او د هویت پاني کي یي یوازي یو نوم د هیواد د ټولو وګړو له پاره کارول کیږي
په سعودي عربستان کي چي قبایلي ټولنیز جوړښت لري، د وګړو پر پیژندپانه یي سعودي لیکلی وي، او د ډیرو عربي هیوادونو همدغه تګلاره ده.
یوه ورځ چي د اهل تشیع د یوه علمي او تجربه لرونکي شخص سره ناست وم، هغه چي د استاد رباني د حکومت پر مهال وزیر هم تیر شوی، او په تیرو ولسمشریزو ټاکنو کي د ولسمشري چوکی له پاره کاندید وو، د خبرو په جریان کي یي وویل چي غرب ولي زمونږ افغانانو له پاره یو ډول او د خپل ځان له پاره بل ډول تګلاره غوره کوي؟
غرب ولي هڅه کوي چي مونږ افغانان په مختلفو نومونو وویشي، حال داچي دوی بیا غواړی چي لږکي په ډیرکیو کي مدغم کړي.
*Ministry of European Integration* رښتیا هم په اروپا کي شامل هر هیواد د انتیګریشن وزارت په نوم اداره لري، همدغه د یوځای والي یا ادغام او یا هم د اجتماع د مختلفو عناصرو د یو ځای کیدو وزارت وي.
په ټوله کي دغه وزارتونه د دي له پاره جوړیږي چي په اروپایي ټولنه کی د یوځای کیدو چارو باندی کار کوي، خو د دغو وزارتونو یو له مهمو کارونو څخه په کور دننه د لږکیو ادغام په ډیرکیو کي وي، دوی خلک هڅوي چي له قومي، ژبني او سمتي تعصبونو څخه لاس په سر شي، او په راتلونکي کي له لویو ملتونو او قومونو سره اوږه په اوږه ګډ کار وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

همدغه تګلاره ده چي نن په اروپا کي د قوم پر بناء جګړي نه کيږي، او نه هم د قوم پر بناء يو بل ته واک او قدرت سپارل کيږي، هلته هرڅه د لياقت او تجربي له مخي وي.
افريقا چي د نړۍ وروسته پاتي لويه وچه ده، هلته همدغه د قومونو جنجال تر بل هر ځای ډير دی، او خلک د قوم په نوم وژل کيږي، هر قوم خان پر بل قوم پورته او ښه بولي.
موږ ګورو چي دافريقا اقتصاد، دهغوی ښوونه او روزنه، دهغوی بنسټيز پرمختګ له ستونزو سره مخ دی، د افريقا د وروسته پاتي والي تر ټولو عمده علت همدغه قبايلي او قومي تعصبونه دي.
موږ نه غواړو چي داروپا په څير دي لږکي قومونه په ډيرکيو کي منحل شي، ځکه چي اسلام هم د قوم بدلون او تغير ته اجازه نه ورکوي، خو دا غواړو چي د ورونو قومونو په څير په هيواد کي ژوند ولرو.
که چيرته د افغانانو د هويت پاڼو په مخ د هغوی د قومونو نومونه وليکل شي، نه داچي د بېلوالي، تعصب، جنګونو او ستونزو لامل به شي، بلکه په نړيوال ډول به هم له ستونزو سره مخ يو.
که چيرته زموږ د تاجيک ورونو په هويت پاڼه کی وليکل شي چي تاجيک، ممکن داسي هيواد ته د ده د سفر اړتيا وي چي هغه هيواد به له تاجکستان سره ښې اړيکي نه لري، او برعکس له افغانستان سره به ښې اړيکي لري، نو ستونزه به يې زموږ تاجيک وروړته وی.
که همدغه زموږ تاجيک ورور تاجکستان ته ولاړشي او هلته د تاجکستان خلک ورڅخه پوښتنه وکړي، چي څوک يي؟ څه به وايي تاجک که افغان؟ حتمي ده چی وايي به افغان يم.
ځينو خاصو کسانو چي په سياسي او جنګي محاذ کي د قوم له نوم څخه استفاده کوي، د تاجيک نوم ته صدمه ورسوله، زموږ ډيرو تاجيکو ورونو همدغه عرب مجاهدين په کورونو کي وساتل، دهغوی درملنه او مرسته يي وکړه، خو د سياسي او ټوپکمارو د ناسمي تګلاري له امله نن دوی هم ځوريږي، او موږ په دي عقيده لرو چي تاجيک ولسونه د نورو قومونو سره د ورونو په ډول ژوند کول غواړي.
که چيرته عربي نړۍ ته د دوی د تګ اړتيا وي نو بيا به هم همدغه د تاجيک کليمه ورته ستونزه پيداکوي، تاسي به اوريدلي وي چي کله خلک بيرته د حج له مراسمو څخه راوګرځي نو بيا وايي چي عرب ته به موږ وويل چي افغان يم، سمدستی به يې وويل چي پښتون که تاجيک؟ همدغه ستونزه همدغو ننيو د قوم پر سر تعصب کوونکو څو تنو پيداکړي، که نه تاجيک ولسونه د جهاد او قومي ورورولي ښه تاريخ لري.
دا ډول هزاره ورونه چی د سيمي هيڅ هيواد هم دهغوی منلو ته زړه نه ښه کوي، مجبوره به وي چي ځان په منګوليا پوري وتړي، او يووخت به نوي نسلونه له هغوی سره ستونزه لري.
بياهم څو تنه ټوپکسالاران دي چي د هزاره، پښتون، تاجيک او نورو قومونو بيلوالي غواړي، خو هزاره ولس نه غواړي چي د هويت پاڼه دي د هزاره په نوم وي، بلکه ښه ګڼي چي افغان نوم ورته وکارول شي.
دا ډول ازبک چي يواځي ترکيه په ښه سترګه ورته ګوري، د نړۍ نور هيوادونو ته به د ازبک په نوم تګ ورته ګران وي.
او که همدغه ازبک ازبکستان ته ولاړشي، هلته به يي ازبکستان په هيڅ ډول قبول نه کړي، او که په ازبکستان کي پوښتنه ورڅخه وشي چي څوک يې؟ څه به وايي ازبک که افغان؟ حتمي ده چي وايي به افغان.
په ټوله کي د بېلابېلو قومونو له پاره به په کور دننه او دباندي د قوم ليکل د هويت په پاڼه کی ستونزه وي.
زموږ هيواد په بېلابېلو وختونو کي له کورنيو جګړو سره مخ وي، که چيرته خدای مه کړه د تاجيک او ازبک جنګ وي، او يا د تاجيک او پښتون، اويا د بلوچ او هزاره، دا چي لاري مو د يو قوم پر بل قوم سپړی دي همدغه هويت پاڼه ممکن چی د همدغو ورونو ژوند ته ګواښ شي.
زما انديښنه داهم ده دلته په افغانستان کي د صحابه ؤ له وخت څخه راپاتی شوي مهاجر او مجاهدين عرب هم ژوند کوي، هغوی عرب قومونه دی، او په عربو ياديږي.
که چيرته د هغوی په هويت پاڼه کي عرب وليکل شي، په کوردننه او کور دباندي په په ځينو خاصو وختونو او شرايطو کي ورته ستونزه وي، اوس خو چي دافغان په نوم ياديږي هيڅ مشکل نه لري، دوی ته کومه اړتيا ده چي له افغان نوم څخه بد وړي.
همدغه عرب که کوم کوم هيواد او يا سعودي ته ولاړشي، او ورڅخه پوښتنه وشي چي څوک يې؟ څه به وايي؟ عرب که افغان؟ حتمي ده چي وايي به افغان.
دا ډول ځيني هغه تاجيک او ازبک ورونه چي له تاجکستان او ازبکستان څخه د دوی پر هيوادونو د کمونسټ انقلاب ديرغل په وخت کي زموږ هيواد افغانستان ته رامهاجرشوی وو، کيدای شي د وخت په تيريدو راتلونکی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

افغان نسل (پښتون، تاجیک، ازبک، هزاره ..) هغوی ته ووایي چي تاسي زموږ ورونو قومونو (پښتون، تاجیک، ازبک، هزاره، بلوچ، ترکمن، نورستاني ...) ترمنځ ستونزو او اور ته لمن وهئ، ښه داده چي بیرته خپلو سیمو ته ولاړشئ.
ددي له پاره چي د مسلمان په صفت له دغه ډول ناروا کړنو څخه مخنیوی وشي، هیواد د ترقي او پرمختګ په لور ولاړشي، امید دی چی همدغه څو جنګي جنایتکارانو ته ورونه قومونه وخت ورنه کړي چي زموږ ورووليٍ، ملي یووالی او افغاني غرور ټوټه ټوټه کړي، اوپه دغسي کړنو خپلو بادرانو ته د افغانستان د تجزیي او بېلوالي ور پرانیزي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ